عبدالباری جهانی
۲۰۲۴/۰۹/۱۲

# د ګوزڼ یا پولیو له ناروغۍ سره د چارواکو سلوک

پولیو یا فلج یوه خطرناکه ناروغي ده چي انسان د تل لپاره معیوبوي. د دې خطرناکي ناروغۍ د مخنیوي لپاره، په ټول ژوند کي، یو څاڅکی واکسین کفایت کوي او د تل لپاره انسان ورڅخه ژغورل کیږي. د بی بی سي راډیو یو ورستی راپور وایي چي طالبانو یو ځل بیا په ځینو سیمو کي د ګوزڼ ضد واکسین د کور په کور کمپاین مخه نیولې او خلک مجبور دي چي خپل ماشومان،د واکسین لپاره، جوماتونو او یا مشخصو ځایونو ته یوسي. بی بی سی د روغتیا د نړۍ وال سازمان په حواله وایي چي تر دې دمه په افغانستان کي د ګوزڼ د ناروغۍ ۱۸ پیښي ثبت سوي دي چي ۱۱ یي په کندهار او ۴ یي په هیلمند کي دي.
د بی بی سی د دې پورتني راپور په مقابل کي له عکس العملونو څخه سرې د خپل هیواد د خلکو د پوهي اندازه لګولای سي. البته عام خلک د فیس بوک او تویټر له استعمال سره بلد نه دي او دا د هغو کسانو عکس العملونه دي چي ځانونه پوهان او باسواده بولي.
کوثر جنت لیکي: دا ټولي مرداري اوبه دي.
ګلابي مصدق لیکي: د خوک له منی جوړ واکسین ورکی خپلوتنکیو ماشومانو ته د بدبخت اولادو.
طالب یار لیکي: د پاسه ورباندي د بران ( باران) په شان باموته ( بمونه) واروي کفار او بیا وایی چي ماشوم ګوزان واهلی ( وهلی) دی الله دی تاسو تابه ( تباه) او برباد کړي.
وکیل افغان لیکي: شه دي چي بند کړی یي دی.
وکیل احمد افغان لیکي: کافران د واکسین په نوم ډول ډول دواوي راباندي تجربه کوي چي په نتیجه کي یي د خدای پاک تخلیق چي انسان دی له ډول ډول ګواښونو سره مخ کړ.
اوس به نو سړی دې ناپوهانو ته څه ووایي؟ بمونه د پولیو له واکسین سره څه ارتباط لري؟ د افغانستان او پاکستان په کلیو او ښارونو کي په سلو کي ۹۵ ملایان د پولیو د واکسین پر ضد دغه ډول ناروا تبلیغات کوي او د خپلو وطنوالو د ماشومانو ژوند له خطر سره مخامخ کوي. طالبانو هم د عام ذهنیت په پیروی د پولیو د واکسین د کارکوونکو په مخ کي ډول ډول خنډونه ایجاد کړي دي.
طالبان د خپل دې اقدام لپاره یوازي یو دلیل درلودلای سي او هغه دا چي وایی هسي نه د پولیو د کارکوونکو او په کورونو کي د ښځو ترمنځ غیرمشروع جنسي رابطه قایمه نه سي؛ نو بهتره دا ده چي دا واکسین په جوماتونو کي وسي. د طالبانو دا فیصله د پولیو د کارکوونکو او د ملګرو ملتونو د نړۍ وال روغتیایی سازمان د مامورینو په کار کي څکه خنډ پیدا کوي چي زموږ خلک لا اوس د ساري ناروغیو د مخنیوي په برخه کي دونه پوهه نه لري چي خپل ماشومان دې د واکسین لپاره جوماتونو او مشخصو مرکزونو ته یوسي.
د پولیو ناروغي ساري ده او معمولاً د پنځو کالو څخه په عمر کښته ماشومان نیسي خو د دې معنا دا نه ده چي لویان په دې ناروغي نه اخته کیږي بلکه ډېر احتمال لري چي لویان هم په پولیو له اخته ماشوم سره د تماس له امله په دغه خطرناکي ناروغۍ اخته سي.
په افغانستان کي په ۲۰۲۰ کال کي د پولیو د ناروغۍ ۵۶ پیښي ثبت سوي وې خو په ۲۰۲۱ کال کي یوازي ۴ پیښي ثبت سوي مګر په روان کال کي یې شمېر ۱۸ ته رسېدلی دی او که په همدغه بې احتیاطي سلوک ورسره وسي نو بنایي د پولیو ناروغي یو وخت په افغانستان کي یوه لویه روغتیایی ستونزه سي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د افغانستان پخواني جمهورريس محترم حامدکرزي دوې ورځي مخکي پر خپله ايکس پاڼه په افغانستان کي د پوليو د ناروغۍ د زياتېدلو له امله خواشيني ښودلي او د طالب چاړواکو څخه يې غوښتي دي چي د پوليو د واکسين په مقابل کي خنډونه ليري کړي او د پوليو د واکسين کارکوونکو ته اجازه ورکړي چي کور په کور واکسين تطبيق کړي.
محترم حامد کرزي په هيواد کي د روغتيا په برخه کي جدي ستونزي او د دغه راز مصيبتونو اساسی عامل د زده کړي او پوهي د سطحي ټيټوالی بولي او د تل په څېر يې پر طالب چاړواکو ږغ کړی دی چي د نجونو پر مخ د ښوونځيو او پوهنتونو دروازې پرانيزي.
د ملګرو ملتونو د روغتيايی موسسي وروستی رپوټ، چي د انټرنيټ له لاري خپور سوی دی، هم د خلکو د پوهي د سطحي ټيټ والی د پوليو د واکسين په مخ کي له خنډونو څخه بولي او ليکي« د افغانستان او پاکستان ترمنځ سرحدي سيمه چي د بوليو د ناروغی ۹ پيښي پکښي ثبت سوي دي د تېرو څو کلونو راهيسي د پوليو د ناروغی د خپرېدلو خطرناکه سيمه بلل سوې ده. د پوليو د ناروغی د واکسين د کارکوونکو د فعاليت په مخ کي څو خنډونه موجود دي چي په هغو کي امنيتي ستونزي، ځينو سيمو ته د رسېدلو په لار کي مشکلات، د پوليو د کارکوونکو د قتلېدلو پيښي، د خلکو بې ځايه کېدل، د تعليم کمبود او بېسوادي او له يوه ځايه بل ځای ته د غيرواکسين سويو کسانو خوځېدل او انتقال دی»
راپور زياتوي چي که چاړواکي د پوليو واکسين کارکوونکو ته د کور په کور ګرځېدلو اجازه ورنه کړي نو د دې خطر سته چي دا ناروغي به دونه پراخه سي چي له کنټروله به ووزي او نورو هيوادونو ته به يې لمن پراخه سي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ